مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۰/۱۲/۳۱

# د ډنمارک په تعلیمي نصاب کې د پښتو شعر پل

## (نړیوالې کیسې)

### دویمه برخه




ښاغلي ښکسیار یوه ورځ وروسته، د دسمبر پر دویمه (۲) نېټه، په وطني او افغاني مینې سره زما د پاسنیو پوښتنو په ځواب کې ښه مفصل معلومات راولېږل چې زه یې په امانتدارۍ سره په بشپړ ډول درنو لوستونکو سره شریکوم:

«استاد سلامونه

هیله ده هرڅه سم وي.

دغه کتاب پېژندنه تقریبن په همدې موخه چي تا ته کومي پوښتني پیداشوي هماغه وخت د کتاب تر چاپ وروسته ما لیکلي وه خو څرنګه چي کتاب چا پېنتون لیکوال نه و لوستی ما ته يې خپرول بې ګټي و اېښېدل
هیله من یم ستا ډېري پوښتني حل شي.

کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم ــ Verdenshistorier دنړۍ کیسي

لیکواله ــ Ditte Marie Munch- Hansen دیته ماریه مونچ هنسن

چاپ ــ لومړی

ځای ــ کوپنهاګن

کال ــ ۲۰۰۹

چاپځی ــ Gyldendal

خوروونکي ــ د ډنمارک د ښووني وزارت او د کډوالو سازمان

د پاڼو شمېر ــ ۲۹۱

قطع ــ لوی

په ډنمارک کي ښوونځی جبري ندی، مګر لیک لوست جبري دی. دا خبره په شخص پوري اړه لري چي دغه لیک لوست چېري؟ څرنګه؟ او له چانه کوي؟

له یوه ښوونځي څخه د فراغت د سند د تر لاسه کولو د پاره باید لس کاله ښوونځی ولوستل شي، ډېر خلک دغه دوره د اروپا په ډېرو هېوادونو کي نهه کاله ګڼي، خو دې خبري ته يې پام نه وي چي دلته ښوونځي د ګران هېواد افغانستان پرتله له صفر ټولګي څخه پیلېږي. یو ځوان یا یوه پېغله چي له لسم ټولګي څخه فارغېږي، د ادبیاتو د مضمون پر حساب باید له ځینو لیکوالو، د هغوی له کار او د کار له دود سره اشنا وي.

دغه خبره تر ډېره ځایه له ډېر پخوا او په تېره بیا نن سبا چي د اروپا په ډېرو هېوادونو کي ناسیونالیستان د قدرت پرګدی ناست دي، د دوی پرخپلو لیکوالو او ادبیاتو را څرخي.

د ادبیاتو دغي یو اړخیزي مطالعي یا لوست Ditte Marie چي په ۲۰۰۷ کال د کوپنهاګن پوهنتون د ډنمارکي ادبیاتو او فلسفي له څانګي فارغه ده، پدي اندېښنه کړه، چي دغسي کړنه، د زده کوونکو د پاره ډېره په ګټه نه، چي حتی په ننی د برېښنايي رسنیو په مټ د بې سرحدې نړۍ په چوکاټونو کي مضره لا هم ده.

Ditte خپل دغه سوچ او په ډنمارک کي د هغو ملیتونو د ادبیاتو چي ډېر کډوال يې پدغه هېواد کي اوسي د یوه متمم کتاب د شایع کولو نظریه د ډنمارک د ښووني له وزارت سره د خوښي او د ډنمارک د کډوالو له سازمان او Gyldendalسره چي په ډنمارک کي تر ټولو ستر او پخوانی چاپځی هم دی د کومک او مرستي په موخه شریکه کړه او دغو دربواړو مراجعو ورته لبیک وواېه.

د خپلي دغي موخي د تر سره کولو په خاطر Ditte د ډنمارک د کډوالو د سازمان او Gyldendal په کومک چي د ډنمارک دښوونیزو کتابونو یوازنی چاپځی دی د هغو میلیتونو چي په ښوونځیو کي د بهرنیو زده کوونکو زیاته برخه جوړوي، له هغو پوهانو، لیکوالو او د ادبیاتو له هغو استازو سره د غوراوي د پاره په اړیکه کي شوه چي ورځنی کار يې ادبیات وي.

په ښوونځیو کي له پخوا څخه د غوره شویو ادبیاتو او لیکوالو د لوړي سطحي، د زده کوونکو د عمري پوړ [۷ ــ ۱۰ ټولګیوالو] ، او هغه دریم شرط ته په کتو چي دغه متون باید د غوراوی د پاره تر هرڅه د مخه په انګرېزي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

فرانسوي او یا الماني ژباړل شوي او د Gyldendal او کېوالو د سازمان د ټولو هغو کتابونو لړلیک سره چي دوی د نوموړي هېواد په هکله خواره کړي، مله وي چندان اسان کار هم نه و. دیتي (Ditte) د افغانستان په استازیتوب د دغه کار د پاره زه وټاکلم.

دغو برنیو دلایلو او دا چي نوموړي اثار بیا وروسته باید له ټولو اړوندو غوښتنو سره په ډنمارکي لیکل شوی وای، زه دې ته اړ وېستم چي اثار باید تر ټولو د مخه ما او بیا زما کشر وررور ډاکتر شېرشاه ته چي ما یي د انګرېزي ژباړي هیله تري کړي وه مانوس، پېژندل شوی او د علاقي وړ وای.

ځکه نو ما د استاد پسرلي یو نظم، د پیر محمدکاروان یو ازاد شعر او څو لنډۍ د دغي پروژې د پاره غوره کړې، کتاب د افغانستان، بوسنیا، عراق، ایران، ترکیې، قسطنطنیې، صربستان، پاکستان،سومالیې، سری لانکا، کرد او فلسطیني ملتونو د ادبیاتو په ګډون، د نړۍ کیسو په نامه له ۷ م څخه تر ۱۰ م پوري ټولګیو زده کوونکو لپاره په ډېره ښکلي قطع او صحافت په ډنمارک کي چاپ او د ډېرو صحافیانو، کره کتونکو او ژورنالیسانو د نظر وړ وګرځېد.

پدغه ښوونیز اثر کي، له هرمتن نه وړاندي د هغه د لیکوال په هکله معلومات او بیا وروروسته د دغه اثر په هکله د اثر د غوره کوونکي دلایل او په پای کي ستونزمن او بېګانه وییونه راپېژندل شوي دي.

تر دې ټولو وروسته د اثارو د ادبي، ټولنیزو، ژبنیو او فرهنګي ښېګنو د لا ښه پوهاوي په خاطر ځیني تمرینونه ځای پرځای شویدي.

د ټاکل شویو متنونو څخه کومه برخه نده ببله شوې بلکي ټول را اخیستل شوي.

په درناوی

دا هم یوه بله مقاله چي ما د ډنمارک په تدریسي سستم ډېره پخوا لیکلي وه او کېدایشي چي حتی حتمن ځیني شیونه له هغه وخته تر اوسه د بېلابېلو رژیمونو له خوا بدل رابدل شوي دي، خو یو عمومي انځور وړاندي کولای شي.

### د خپلي خوښي او داوطلبانه کار:

لیک لوست په ډنمارک کي جبري دی خو ښوونځی نه، په بله مانا وګړي د لیک لوست په زده کولو مکلف دي مګر دا چي څنګه او چېرته یې زده کوي هغه د خلکو خپل کار دی دغه لنډې یو دوه خبرې د زده کړو د پاره قانوني او کاغذي فورمولبندي ده، تر دې ور ابخوا لکه بل هر هیواد په ډنمارک کي هم ماشومان د ۵ او ۶ نیم کلنی ترمنځ د ښوونځي لړی را پیلوي او ښوونځي ته ځي، دا چي لسګونه ډوله دولتي، نیمه دولتي او شخصي ښوونځي موجود دي، دا بیا بېله خبره ده.

د ښوونځي دوره ټیک لکه د ګران افغانستان ۱۲ کاله ده، خو لږ په بله بڼه. ماشوم له صفر ټولګي څخه شروع کوي او له نهم ټولګي فارغېږي، بیا درې کاله د لیسې ـ کالج ـ جمنازیوم دوره تېروي چي شي ۱۲ کاله او په لوړو زده کړو پیل کوي. هغه زده کوونکي چي د نهم ټولګي څخه په فارغېدو کي یي ښې نومرې نه وي راوړي او وار د واره جمنازیومونو ته نشي شاملېدی، کولای شي بېلابېلو حرفوي ښوونځیوته ولاړ شي او یا د ځینو اضافي کورسونو په تعقیبولو سره خپلي نومرې پوره او کال نیم تر هغه نورو وروسته جمنازیومونو او بیا دلوړو زده کړو اداروته خپله لاره پرانیزي.

د زده کړو په دوران کي د ښوونځیو او پوهنځیو ترمنځ لسګونه کړۍ وړې لارۍ شته چي زده کوونکي کولای شي یوې خوا او بلي خوا ته سره واوړي را واوړي، داسي نده لکه د افغانستان چي د ادبیاتو پوهنځی دې شروع کړ [ او د زده کړو په دوران کي یي عسکرۍ ته ونه نیوې ـ هاهاها] نو ارو مرو به څلور کاله وروسته د ادبیاتو له پوهنځي فارغ او په سپینه ادې ښوونځي کي د پښتو ښوونکی یي.

دلته دا خبره ډېره شوني ده چي یو هلک یا نجلی د ټولنیزو علومو پوهنځی شروع، دوه کاله وروسته د پلاني او پلاني کورس په تعقیبولو او په پلاني او پلاني مضمونونو کي د څومره څومره نومرو په جوړولو د حقوقو پوهنځي ته واوړي او که هغه یي هم کال نیم وروسته د خوښي پوهنځی و نه خوت نو بیا ټیک همدغه شان خو د ځینو نورو کورسونو په نیولو او ځینو نورو مضامینو کي تر لازمي نومرو جوړولو وروسته کوم بل د خپلي خوښي پوهنځي ته واوړي او ۷ ـ ۸ یا لس کاله وروسته له څلورم یا پنځم پوهنځي څخه خپل د فارغېدو سند ترلاسه کړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د زده کړو په دوران کې دا هم شرط ندی هغه کسان چې د پوهنځي په لومړي ټولګي شروع کوي ټول به هماغه زده کوونکي وي چې د دوبنیو رخصتیو په شروع کې د هیواد له جمنازیومونو فارغ شوي وي، کېدای شي ستا یوه ټولګیواله یا ټولګیوال تر تا ۲۰ کاله مشره یا مشر وی، شل کاله یې کار کړی او اوس یې زده کړو ته شوق شوی وي.

سمندر چې د ۲۰۰۶ کال د دوبنیو رخصتیو په پای کې یې په ۵ نیم کلنۍ کې صفر ټولګی شروع کړی و اوس پنځم ته لاړ، دا خبره مې هېڅ نه هېرېږي چې د صفر ټولګي په پای کې د ښوونځي مشر موږ والدینو ته په خطاب کې ویل: "ستاسو بچې د نن ورځې په شمول ۲۰۰ ورځې یا واره ښوونځي ته راغلل او تاسې یاني والدین ۴۰۰ ځلې، دا ځکه چې هرسهار مو هغوی را وستلي او بیا ماسپښین مو بېرته کورته بوولي".
داسې نده لکه د میدان د لېسې د یوه پخواني استاد اروانباد محمد دین خان خبره چې " ګډولې[1] ورتخته کړه او په ګردنه[2] یې واړوه ".

په ښوونځیو کې له درس نه وروسته وخت د پاره د وزګارځیو په نامه د لوبو او درس ګډ ځایونه شته چې ماشومان وساتي څو والدین له کارونو راوزګار او ماشومانو پسې راشي سمندر چې نوې شروع کړې وه هغه وخت ډېر ښکلي وختونه و، هرڅه ـ څه ناڅه هغه د چاخبره په خپل هماغه پخواني او کلاسیک موډ و، په ښوونځي کې به که هرڅه پېښېدل نو ښوونکو به موږ ته د لیکلي مکتوب په واسطه خبر را کاوه لکه د والدینو او ښوونکو غونډه، د والدینو د ګروپ ملاقات، د ټولګي د پیسو د صندوق اړوند، د ماشومانو چکرـ لمباـ موزیم... ته تګ او نور.

خو نن سبا دا هرڅه په نېټ او برېښنا لیک کېږي چې دوه ورځې یې تعقیب نکړې نو نه پوهېږې چې سبا به ښوونځی وي او که نه؟ او که وي نو بیا په څو بجو شروع کېږي او په څو ختمېږي؟

سږ یې د اوړي تر رخصتۍ لا څو میا شتي تر مخه د څلورم [ی] په پانه چې د سمندر د ټولګي پانه ده لیکلي و "د دوبي د رخصتیو په وروستي week end اونۍ پای د اګست د میاشتي په شپږمه نېټه د سهار له ۹ د مازیګر تر ۵ بجو خپل نوی ټولګی رنګ او ښایسته کوو، له ځانه سره خوراک، چای او کافي مه هېروئ".

دغه کار دوی یو ځل له صفر ټولګي څخه اول ته په اوړېدو کې هم کړی و، خو هغه ځل زه غیرحاضر وم او د همغي غیر حاضرۍ په وجه مي سږنی برېښنالیک print او د یادښت پرتخته کلک ټومبلی و او بیا بیا مې تعقیباوه

دغه ټاکلي ورځ همدا پرون وه، زه چې لا د پېشلمي بې خوبه او د روژې غوسه او وچي شونډې تر وخت نا وخته او تش لاس ورغلم که ګورم چې بلا میندې او پلرونه لګیا دي او بېلابېل کارونه کوي، یوازې دوه سطله د دېوال رنګ یې د ټولګي له بودیجې یاني هماغه د زده کوونکو د صندوق څخه چې کال کې د زده کوونکي په سر سل کرونه [ډېنمارکي پیسې] دي اخیستي و، نور هرچا خدای وس چا برس، چا لرګی، چا د رېک د پاره دړه، چا د الماریو رنګ، چا د تختې رنګ، چا پرده، کلچې، کیک، چای ، کافي او چا څه او چا څه د ځانه سره راوړي وو او لا لګیا و راوړل یې، ځیني خو څو ـ څو واره او بیا ـ بیا کورونو او بازار ته په اړوندو څیزونو پسې تلل او راتلل.

موږ افغانان خو له لویه سره د خدای په فضل په څه نه یو خبر، نو چې د روژې غوسه او د پېشلمي بې خوبي هم ورسره یو ځای شي څه به ترې جوړ شي هغه د چاخبره لویه ورځ هماغلته [لر شه متی برشه متی] کېدلم څو چې مازیګر بېرته کورته راغلم.

د سمندر په ټولګي یاني پنځم [ی] کې ۲۲ تنه زده کوونکي دي، خو میندې او پلرونه ترنیمو هم لا کم و، خو هېچا په چا کار نه درلود چې کله ځي یا کله راځي او یا څوک څه کار کوي هرڅوک لګیا و یو کار یې کاوه، هېچا نه ویل څوک راغلي او څوک ندي راغلي او یا ولې ندي را غلي؟. یوازې زما په زړه کې دغه خبره وار ـ وار تېرېدله چې دغه نور نو ولې ندي راغلي؟ خو په خوله مې هېڅ نه ویل ځکه دا نور ټول چوپ چاپ و، او د هغوی خو ځکه دا خبره په زړه کې نه وه ـ که وای نو بیا یې ویل هم ، او لکه زما یې په زړه نه پرېښووه. پدې اساس نو که پدغه کار کې له کوم لوري کومه ذره ثواب مواب و هغه مې هم په خپل نیت خراب کړ، په پای کې چې کله له ټولګي راوتو داسې ښایسته ښکارېده لکه ناوې.

ما چې د خپلې خوښې او داوطلبانه کار دغه بېلګه د خپلو وطنونو له هغو سره مقایسه کوله، نو هغه بې شمېره بې وزلي چې یا تر اوسه له هغو داوطلبانه کارونو راستانه نه شول او یا یې د نه ورتګ له وجې سرونه وخوړل، بیا ـ بیا راته یادېدل.

[1] ــ ګډوله د باقولیو یا باکولیو دوډی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

۲ ـ گردنه د میدان د لېسي [برمیدان] او کوز میدان تر منځ غر.

۰۷/۰۸/۲۰۱۱

ډنمارک»

د ښاغلي بېکسیار له دي معلوماتو نه ډېره مننه چي په هنرمندانه ډول يي زما پوښتني په هر اړخيز ډول ځواب کړي دي، په تېره د ډنمارک د تعلیمي نصاب په باب هر اړخيز علمي معلومات او هغه کارونه چي ده د همدي تعلیمي نصاب د مرستندوی درسي کتاب په برخه کي ترسره کړي دي.

په دې مرستندوی درسي کتاب «verdenshistorie» (نړیوالي کیسي) کي له افغانستان څخه دوه ټوټي شعرونه او شپېږ لنډۍ راوړل شوي دي:

ـ د دوو تنو معاصرو شاعرانو د شعر یوه، یوه بېلګه،

ـ د پښتو ژبي له فولکوریکو اشعارو څخه څو لنډۍ.

د ښاغلو: استاد صدیق پسرلي او پیرمحمد کاروان د کلام یوه ـ یوه بېلګه او د لنډیو شپږ بېلګي راوړل شوي دي. د شعرونو او لنډیونو انتخاب او توزیحات یا پېژندنه او مقدمه هم ښاغلي عبدالملک بېکسیار په ډنمارکي ژبه ورته لیکلي ده.

د یاد مرستندوی درسي کتاب د افغانستان برخي په پیل کي په ډنمارکی ژبه باندي د ښاغلي بېکسیار توزیحات راغلي دي چي لنډون يي ما پښتو ژبي ته اړولی دی.

نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ